مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۵/۰۲

د مینې تار

د ښاغلي اېمل پسرلي پر کیسې خبرې

لومړی به دغه کیسه ولولو:

پرده مې پورته کړه. سپینه وربخ وه ټول اسمان یې پوښلی و. رڼا داسې راښکاره شوه لکه په خونه کې چې سپین ګروپ روښانه وي. ونو ته مې پام شو ځانګې یې نه ښورېدې، شمال نه و. په زړه کې راتېره شوه چې یخ به نه وي. خوښ شوم. چې یخ وي په دوکان کښه ګونه ډېره وي، ډېر ستړی شم.
زه د چايو په دوکان کې کار کوم. چای، کافي، کپاچينو تياروم. دوکان مو دننه کوچونه او چوکۍ لري. دننه یو څه تيارهوي. دباندې هم په پياده رو کې څو څوکۍ لرو. څو کسه مو دايمي مشتريان دي. یو ليکوال دی، په ککرۍ وېښته نه لري، خو شاته يې لکه کوڅې تک سپين وېښته راځړېږي. برېښنايي سېګرېټ څکوي. پندو ګوتو کې يې کلک نيولې وي. کافي څښي، پښه يې په پښه اړولې وي، په کوچ کې داسې ځای ناست وي چې له کړکۍ دباندې خلک ووينې. يوه نيمه ورځ ورځپاڼه لولي نور کله دباندې خلکو ته ګوري. په دوکان کې مې همکاره جوزيفين يې له کتابونو سره بلده ده. دی چې راشي د هغې په مخ کې وينه تازه شي. ورمنده کړي. يوه شېبه يې د کيسو تشريح ترې وغواړي. جوزيفين راته وايي دغه ليکوال يوازې دی ، په کور کې څوک نه لري، دی ته يې ويلي دي چې زموږ په دوکان کې په کيسو فکر کوي، د کافي بوی، د خلکو بېلا بېلي خيرې او خبرې يې سوژې ورته برابروي.
د دوکان د تشنابونو تر څنګ په يوه تياره کونج کې دوه کسيز کوچ ما د ميناتو ځاله بللی ده. هره غرمه يوه ځوانه جوړه راځي. چای څښي. باوري يم چې چايو ته يې زړه نه کېږي هسې د ناستې ځای پسې غواړي. لکه چې د هند دي. په رنګ غنم رنګي، د نجلی سترګې غټې غټې تکې توري، هلک نرۍ وچکۍ دنګ. له دواړو سره کتابونه وي. لکه چې په نژدې پوهنتون کې محصلين دي. څنګ په څنګ ناست وي، هلک مخ ور اړولی وي داسې ورته ګوري لکه نوره دنيا چې نه وي. نجلی بيا لکه د زمري په پنجو کې ايساره کبلۍ غټې غټې وارخطا سترګې ښوروي.
نجلی لیلا نوميږي. جوزيفين ورسره شناخت پيل کړی. وايي په هلک مينه ده خو ډارېږي د کورنی څوک يې دلته ورسره ونه ويني. هلک د نورو خلکو په کيسه کې يا نه دی او يا نجلی ته ځان زړور ښيي. جوزيفين وايي ليکوال بايد پر دوی کيسه وليکي. خو له ليکواله ډارېږي چې ورته غوسه نه شي. هغه لوی ليکوال دی دا د چايو د دوکان خدمه، له دې به څرنګه د کيسو سوژې اخلي.
دريمه دايمي مشتري مو هلينا ده. تقاعد شوې ښځه خو داسې ځوانه او په سينګار پټه چې ليلا پرې ورسته او زړه ښکاري. شونډې يې تکې سرې وي. طلايي وېښته يې منظم تړلي وي، جامې يې هره ورځ نوې ښکاري. لمنې اغوندي. د دوکان په منځ کې داسې ځای کښېني چې له وره راننوتونکي او تلونکي هر کس ورښکاري. کپاچينو څښي خو يو ګيلاس اوبه هم ورسره تل غواړي، وايي د مخ پوست ته يې اوبه ښې دي. عينکي يې په سترګو وي خو لکه چې ترې کار نه اخلي. چې چا ته ګوري سر ټيټ کړي، عينکې يې بيخي د پوزې په سر راشي د عينکو له شيشو پورته، ورو ځې کش کړي هر کس داسې وڅاري لکه امنيتي کامره چې په چا پسې وي. جوزيفين وايي هلينا يوازې اوسېږي. کار نه کوي، پيسې لري، خو سودا هم ډېره نه اخلي، هسې په دوکانونو ګرځي، کتابونه اخلي، کيسې او سفرنامې يې خوښې دي. هر کتاب چې ولولي په هغه تر ډېرو خبرې کوي. له اوسنيو ليکوالانو خوښه نه ده. جوزيفين ته يې ويلي چې ليکوالان بيړه کوي، کرکترونه سم نه يادوي هسې پرې تېرېږي. هلينا له دې نه ده خبره چې يو مشتري مو ليکوال دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

او دا يې ټل ويني چې هلته ناست وي. جوزيفين وايي نه يې ورمعرفي کوم، هسې نه سره خپه شي بیا به مو يو مشتري له لاسه ورکړی وي. هلينا هيندی جوړې ته ډېر ګوري. جوزيفين ته يې ويلي دي چې ليلا ښه نجلۍ ورښکارېږي بيخي لکه د دې لور جوانا چې په ځواني کې د الوتکې د رالوېدا په پېښه کې مړه شوه. جوزيفين وايي د ليلا سترګې د هلينا خوښې دي وايي د جوانا سترګې هم غټې وې خو هغه شنې وې.
زموږ د دوکان څښتن عرب دی. تل ورزش کوي، عضلات يې پړسولي، تنګ کميس اغوندي، په ګرانه خاندي، ورو ځې يې پورته کش کړې وي، داسې ګرځي لکه پوځي جنرال چې وي. جوزيفين ته يې سترګې پټې کړې دي، يوازې هغې ته خاندي، کله کله يې په اوږه لاس ورږدي او يا يې لاس رانيسي او د خپل مټ په عضله يې ږدي، ورته وايي چې د ده عضلې وګوري. جوزيفين ورته موسکۍ شي. چې نه وي بيا ماته وايي چې تر ده يې بل احمق نه دی ليدلی. عرب بيا فکر کوي چې جوزيفين يې د بدن په ښکلا مينه ده. جوزيفين ماښام مهال پوهنتون ته ځي. وروستی کال يې دی. ادبيات لولي. له کيسو ليکلو سره يې جوړه ده. خو وايي کيسه نه شم ليکلی. د کيسې اصولو سربداله کړې ده. دا وايي هره جمله چې ليکم فکر کوم له داستاني اصولو سره به سمه نه وي. ما ورسره وعده کړې چې کيسه به ورته ليکم. په بدل کې به دا يو ماښام راسره ډوډۍ خوري. دا نه ده خبره چې په ما ښه لګېږي. د دې خبرې، د دې د سترګو حرکات د دې فکر هر څه يې ښه راباندې لګيږي. تر هغو چې په دوکان کې وي وخت راباندې ښه تېرېږي چې له دوکانه لاړه شي هره شېبه راته ساعت وي. تر هغو مې عرب ته هم پام نه وي چې جوزيفين لاړه شي هغه عرب هم رایاد شي، غوسه مې ورته راځي.
جوزيفين راسره منلې چې که مې کيسه وليکله يو ماښام به ډوډۍ راسره خوري. دا به کيسه پوهنتون کې خپل استاد ته د کورنۍ دندې په ځای ورښيي. زه ليکوال نه يم. خو فکر مې ورته کړی و . د هلينا او ليلا کيسه مې وليکله. ليکوال ته مې وسپارله چې نظر پرې راکړي. هغه مې پاڼې واخيستې. کافي يې څښله او کيسه يې لوستله. وروسته يې د ګوتې په اشارې وروغوښتم، ويل يې دا هلينا او ليلا چيرې ناستې وي. ور ومې ښودې. زما پاڼې يې راوسپارلې، له ځايه پورته شو، راته ويې ويل:
- دوی ته زما ولې نه و ورپام.
ليکوال په کيسې څه راته ونه ويل. کيسه مې جوزيفين ته وسپارله، هغه ډاډه نه ده چې د پوهنتون استاد به يې خوښه کړي که نه. خو ډوډۍ ته راسره ځي. دواړو ويلي چې نه به چای څښو نه کافي، ګوره که مو لا د ميني تار ټينګ شو.

***

ظاهراً د دوکان او د مشتريانو ګڼې کيسې: ليکوال، هلينا، ليلا او ملګری يې، جوزيفين، عرب او پخپله راوي خو په ټولو کې د ميني د تار څرک وينو. ليکوال له خپلې ليکوالۍ سره مينه لري، کری ورځ د سوژې (معشوقې) په تمه کافي شاپ کې تېروي. د ليلا او هندي هلک خبره خو ښکاره ده. هلينا ظاهراً پر ليلا د خپلې له لاسه تللې لور مينه ماتوي خو دا يوازې ده او دوکان ته هر راتلونکی ځاري، ښايي ځان ته به جوړه لټوي او ښايي د ليلا او هلک مجلس ته په حسرت ګوري او د لور ياد هسې بهانه وي. عرب بيا له خپل موقفه سوء استفاده کوي، کله کله د ليلا پر اوږه لاس ږدي او دی چې بل کمال نه لري په زړه کې ګوره ماتوي چې ګواکې ليلا يې پر غښتلو عضلاتو مينه ده. راوي هم د جوزيفين د خپلولو خوبونه ويني، ان ورسره د يوه وخت ډوډۍ د خوړولو لپاره ورته کيسه ليکي.
د کيسې په پيل کې اسمان سپينو وريځو نيولی، د ونو پاڼې نه ښورې مانا دا چې باد نه لګېږي او راوي دې ته خوښ وي چې مشتريان به کم وي.
د ميني دغه ټول تارونه همداسې حالت لري. نه پوره رڼا (اميد)، نه پوره تياره (ناهيلي)، نه جدي ګواښ (باد).
ليکوال د سوژې په تمه ورځ تېروي خو مطمين نه دی چې لاس ته به يې راوړي. ليلا وېرېږي چې څوک خپل خپلوان يې ونه ويني. هلينا د جوړې د موندلو په خاطر خپلې ښکلا ته پام کوي او له تېرې ځوانۍ سره مجادله کوي خو نه پوهېږي چې څوک به پيدا کړي که نه. عرب ګومان کوي چې جوزيفين يې پر مټو مېينه ده خو ورته ويلی يې نه شي. جوزيفين مجبوره ده کيسه وليکي خو ډارېږي چې په اصولو به برابره نه وي او استاد يې ونه مني. راوي جوزيفين غواړي خو له اظهاره وېرېږي، ښايي په دې چې نجلۍ به يې رد کړي او له هغې سره د ملګرتوب چانس به هم له لاسه ورکړي.
دلته په يوه کيسه کې ګڼې کيسې د انسجام په تار کلکې تړل شوې دي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ